# Asmat Bibi's Fiction Collection "Nimgare Khaza"; A Femistic and Psychological Study

Ahmad Ali Ajiz [1]

**Abstract**: Psychology plays a vital role in shaping personality. Pashtuns have their own psychology, which cannot be expressed until one goes to study in detail. Likewise, womenfolk in pashtun society have their own psychological approaches. In this paper, I will discuss these aspects in light of *Nemgare Khaza* authored by late Asmat Bibi.

چونکې موضوع افسانه ده او هغه هم پښتو افسانه ده . نو غواړم چې لږ شان په دې هم رڼا واچووم . چې د نوي کُول په ذهن کښې لږ شان تازه والے راشي .

د افسانې محققینو ګڼ تعریفونه کړي چې پکښې مستشرقین هم شامل دي . لکه یو مستشرق هیډسن وائي:

> لنډې افسانې د پاره تش لنډوالے یوائیځے شرط نۀ دے بلکې پکار ده چې د مقصدیت انداز او تکنیک په لحاظ هم ځان ته جدا رنګ لري.[1]

راځئ چې بل تعریف هم اوګورو ښاغلے سحر یوسفزے د مغربي نقادانو تجزیه په دې ډول کوي :

> افسانه یوه وړه قیصه وي چې نۀ خو د داستان یا ناول غوندې او نۀ د ډرامې په شان پکښې ډېر کردارونه ، مکالمې او د سټېج ضرورت وي.[2]

د تعریفونو نه پس به د افسانې اجزاء ترکیبي ته اشاره هم ضروري وي . په څرګنده خزانه کښې په دې ډول دي:

> (۱) قیصه (۲) تهیم (۳) پلاټ (۴) واقعات (۵) سسپېنس (۶) نقطه عروج (۷) کردار نګاري (۸) ژبه (۹) د بیان انداز (۱۰) لنډوالے (۱۱) عنوان (۱۲) اغاز و انجام دغه ټول هغه تکینیکي اندامونه دي . چې د یوې نمائنده افسانې ضامن ګرځېدے شي .[3]

[1] Department of Pashto, University of Peshawar

هسې خو په دې مېدان کښې ډېر ليکوالانو په دې عنوان او موضوع طبعه ازمائي کړې ده او دغه موضوع په ډېر خوندور انداز پېش کړې ده .

که مونږ اوګورو نو ابتداء کښې پرې راحت زاخېلي بسم الله کړې . ددې نه علاوه نورو ليکوالو هم په دې موضوع په زړهٔ پورې ليکونه کړي دي . لکه طاهر افريدے ، پروفېسر افضل رضا، مفلس دراني، زېتون بانو، حسينه ګل تنها ، نور محمد سحر ، صاحب شاه صابر ، نور الامين يوسفزے او دغه شان نور ډېر زيات اديبان دي چې په دې موضوع ئې ښهٔ په زړهٔ پورې کار کړے دے . او ولې به ئې نهٔ کولو چې يوه زمانه کښې نسواني نفسياتو سره لوبې کېدې . يعني په مومندو کښې به د زنانو باقاعده منډهې لګېده چې زنانه به پکښې خرڅېدې .

په دې سلسله کښې يوه افسانه د ارباب ظاهر خليل ``ناوې نهٔ اخلې" هم په دې موضوع د پښتو اکېډيمۍ په مجله ``پښتو" کښې چاپ ده چې ډېره د شاباشې قابله ده .

په دې موضوع نهٔ صرف په دې سيمه بلکې په ګاونډي ملک افغانستان پرې هم ډېر څهٔ ليکلے شوي دي . او دا ځکه چې زمونږ ژب ، کلتور، معاشره ، اقتصاد، دودونه، دستورونه يوشان دي .

د نورو ليکوالو خوېندو په رنګ ياسمين وزيرۍ خور لکه د عصمت بي بي په شان د افغانستان د خوېندو مېندو غم ژړلے دے .

لکه چې علم ګل سحر ددغې لنډو قيصو په سريزه کښې ليکي:

> د اغلې ياسمين وزيرۍ موضوع ګانې مختلف دي خو زياته برخه ئې د افغانستان د مېرمنو د ژوند په اړه ده . پکښې ئې د افغان مېرمنو د محرومتيا داستان په خوږه ژبه بيان شوے دے دغه يويشتمه پېرۍ ده خو پښتنې مېرمنې په ځنې سيمو کښې د دغه ستونځو سره مخ دي.[4]

هم په دې سلسله افسانه نګارې ، کالم نګارې او شاعرې عصمت بي بي يو څو کتابونه ليکلي دي چې پکښې يوه افسانوي مجموعه نيمګړې ښځه هم ده .

ددې مجموې په زياتو افسانو کښې کردارونه زنانه دي . د عصمت بي بي افسانې عموماً ماحولياتي او څهٔ کرداري دي . چې د زنانو نفسيات پکښې چېړلي شوي دي او واضحه کړے شوي دي . دا افسانې زياتره د زنانو د ژوند نه چاپېره چورلي . يعني زمونږ پښتون ماحول او پښتنه معاشره کښې چې د ښځومتعلق څهٔ کېږي روان دي . يا دوي سره څهٔ قسم سلوک کولے شي نو عصمت بي بي د هغه څهٔ په ډېر ښهٔ انداز سره نقشه راښکلې ده .

هسې خو زېتون بانو خور هم په دې معامله کښې څهٔ کسر نهٔ دے پرېښے خو چې عصمت بي بي په دې خپله افسانوي ټولګه ``نيمګړې ښځه" کښې د زنانو د نفسياتو په حقله د کوم فهم و فراست نه کار اخستے دے نو دا خبره به بې ځايه نهٔ وي چې مونږ عصمت بي بي ته درې افسانوي په رڼا کښې ``نسواني ماهرهٔ نفسيات" اووايو . بله دا چې عصمت خور په خپله ددې معاشرې يو لور خور پاتې شوې ده او ژوند ئې په غور غور لوستے دے . نو ځکه ئې په افسانو کښې نفسياتي رنګ رُوڼ دے . او دا نقشه ئې ښهٔ په مهارت راښکلې ده .

زمونږ مقصد د عصمت بي بي د افسانو په فن خبره نۀ دي کول بلکښې په فکر ده . د عصمت بي بي کتاب ``نيمګړې ښځه" د نفسياتي مطالعې نه مخکښې دا کتل دي چې نفسيات څۀ شے دے . دا د علم کوم قسم کښې شمېرلے شي؟ د علم نفسيات وضاحت څۀ دے؟ يوه نفسياتي مطالعه به څنګه کولے شي؟ نفسياتي تحقيق څۀ وي؟ نو هر کله چې ددې خبرو وضاحت په مختلف او مستندو حوالو سره اوکړے شي نو بيا به د عصمتې خور د افسانو نسواني مطالعه اسانه شي .

نفسیات: انسان کے تحت الشعور اور لاشعور کی تحقیق کا علم (Psychology) وہ علم جس میں انسانوں اور جانداروں کے نفس کی حقیقت اور عمل سے بحث کی جاتی ہے. بالخصوص خاص حالات وواقعات کے تناظر میں ، نفس سے متعلق باتوں کا علم، علم النفس.[5]

ترجمه: د انسان د تحت الشعور او لاشعور د څېړنې علم ، هغه علم چې پکښې د انسانانو او ځناورو د نفس د حقيقت او عمل په حقله بحث کولے شي ، په خاص توګه د مهمو حالاتو او واقعاتو په تناظر کښې . (يا) د نفس په حقله د خبرو علم (نفسيات دے)

علم نفسیات: نفس سے متعلق باتیں، علم النفس، انسان کے تحت الشعور اور لاشعور کی تحقیق کا علم.[p255,6]

ترجمه: "د نفس په حقله خبرې ، د نفس علم ، د انسان د تحت الشعور او لاشعور د څېړنې پوهه "

د نفسياتو يو بل کتاب په دې حقله ښۀ تفصيل ليکلے دے .

علم نفسیات وہ علم ہے جو انسانوں اور دوسرے حیوانوں کے کردار کا سائنسی مطالعہ کرتا ہے. کردار کا اطلاق صرف ان کے ظاہری افعال پر نہیں ہوتا جو مشاہدے میں آ سکتے ہیں بلکہ ان افعال اور کیفیات پر بھی ہوتا ہے جو مشاہدے میں نہیں آ سکتے. مشاہدے میں آنے والے افعال کا مطالعہ عام طور پر براہِ راست نہیں ہو سکتا اس لئے انہیں بالواسطہ طریقے سے زیر مطالعہ لایا جاتا ہے. گویا اندرونی افعال اور کیفیات کا طریقہ بالعموم یہی ہے کہ ظاہری افعال کے مطالعے سے ان کے بارے میں نتائج اخذ کئے جاتے ہیں، البتہ چند اندرونی افعال اور کیفیتات ایسے بھی ہیں جن کا مطالعہ آلات کے ذریعے کیا جاتا ہے.[p8,7]

هم دغه کتاب کښې بل ځاے کښې ليکلي دي:

نفسیات کیا ہے؟ تحریکِ احیائے علوم کے دوران اور اسی کے بعد نفسیات کے میدان میں انقلابی تبدیلیاں آئیں جن سے نفسیات کو ایک سائنس کے طور پر پیش کرتے ہیں مدد ملی. اب اسے انسانی اعمال و افعال کے سائنسی مطالعے کا نام دیا گیا ہے.[p5,7]

نفسیات بطور کردار سازی: بطور ایک کرداری سائنس کے نفسیات گروہی کردار کا مطالعہ کرتی ہے. انسان فطری طور پر ایک معاشرت پسند ہے. وہ پیدائش سے موت تک معاشرتی ماحول میں زندگی بسر کرتا ہے. اس کی شخصیت بیرونی معاشرتی ماحول کے ساتھ تعامل (Interaction) سے تشکیل پاتی ہے. جدید نفسیات میں ہم اس بات کا مطالعہ کرتے ہیں کہ معاشرے کسی فرد کے کردار کو کس طرح متاثر کرتا ہے اور فرد معاشرہ پر کس طرح اثرانداز ہوتا ہے، فرد گروہ میں کس طرح سیکھتا ہے. لہٰذا فرد کا مطالعہ صرف اس کے معاشرتی ماحول کے حوالے سے ہی کیا جاسکتا ہے. [p8,7]

ترجمه: "د کردار سائنس په توګه نفسیات د ډلئیز کړو وړو لوستنه کوي . انسان په فطري توګه معاشرت پسند دے . هغه د پیدائش نه واخله تر مرګه په معاشرتي چاپېرچل کښې ژوند کوي . ددۀ شخصیت د بهرني معاشرتي چاپېرچل سره په تعامل کولو جوړېږي . په جدید نفسیاتو کښې به مونږه ددې خبرې مطالعه کوو (او دا پلټنه به کوو ، ګورو به) چې معاشره د یو تن کړۀ وړۀ څنګه د خپل اثر لاندې راولي؟ او هم دغسې یو تن په معاشره باندې په څنګه خپل اثر غورځوي؟ یو تن په ډله کښې څنګه زده کولے شي؟ نو ځکه د یو تن مطالعه فقط د هغۀ د معاشرتي چاپېرچل په حواله سره کېدلے شي"

او بیا چې مونږ نفسیاتي تحقیق کوو نو په دې حقله د نفسیاتو کتاب (او ماهرینو) ډېر واضحه لیکلي دي چې:

نفسیاتی تحقیق: نفسیاتی تحقیق میں ہم انسانی اعمال وافعال کو متاثر کرنے والے عوامل کے متعلق زیادہ سے زیادہ جاننے کی کوشش کرتے ہیں. اور عمل اور سبب کے درمیان تعلق قائم کرتے ہیں. [p7,7]

ترجمه: "نفسیاتي څېړنه هغه ده چې مونږ پکښې د هغه عواملو په حقله د زیاتې نه زیاتې پوهې کوشش اوکړو کوم چې په انساني کړو وړو اثر غورځوي"

ددې دومره نفسیاتي معلوماتو نه مونږ په لنډه توګه په دې نتیجه رسو یعني ددې ټول تفصیل لنډیز دا دے چې په دې نني دور کښې که مونږ د چا نفسیاتي څېړنه یا مطالعه کوو نو مونږ به د یو کردار په شا محرکات لټوو یعني که یو بنده کوم عمل کولو ته جوړ شوے وي او یا په څۀ ډېر غم یا خوشحالی کښې بوخت دے یا په چاپېرچل کښې ئې ډېر ښۀ یا ډېر بد کردار دے او مونږ ئې نفسیاتي مطالعه کوو نو مونږ به دا ګورو چې ددغه عواملو په شا کومې خبرې (محرکات) داسې دي چې دغه انسان ئې دغه عمل ته مائله کړو . او هم دا د جدید ترین نفسیاتو علم دے نو مونږ چې د عصمت بي بي د افسانوي ټولګې ``نیمګړې ښځه" نسواني مطالعه کوو نو هم ددې خبرې او هم ددې وضاحت په رڼا کښې به ئې کوو . او ددې د افسانو نه دا پته ضرور لګي چې عصمت بي بي نفسیاتي بصیرت لرونکې مېرمن ده . معاشره ئې لوستلې ده د زنانو

جذبات ، عادتونه، مجبورئ ، معاشرتي مجبورئ ، د نارينو ورسره سلوک ، د دوي محبت ، تعليمي او جنسي تنده ورته ډېره ښۀ معلومه ده د نيمګړې ښځه ټولې افسانې نولس دي . او ټولې (تقريباً) د زنانو د معاملاتو نه چاپېره چورلي .

عصمت بي بي معاشره لوستې ده لکه چې هم په دې کتاب کښې ئې د ``خپلې خبرې" عنوان لاندې ليکلي دي چې :

> پخوا به لوېه ژوندئ خښولے شوې . پخوا يوه ناپوهي وه اوس سائنس ترقي کړې ده . خلق تعليم يافته او پوهه شوي دي . پښتنې معاشرې هم ترقي کړې ده . ډېرې پښتنې خوېندې د ژوند په سترې مېدان کښې د سړو سره څنګ په څنګ کارونه کوي . د درس و تدريس څانګه ده او که د طب مېدان دے دا دواړه پکښې يو شان زغل کوي خو ددې هر څۀ باوجود چې سائنس دومره ترقي اوکړه ، مونږ يويشتمې صدئ ته راغلو ، ولې بيا هم زمونږ پښتني سوچ او فکر ترقي اونۀ کړه هغه پخواني څوارلس سوه کاله زاړۀ سوچونه . زۀ به نور څۀ اووايم، بس دومره چې ددې هر څۀ باوجود چې پخوا به ئې لوېه ژوندئ ښخولې خو اوس ترقي شوې ده ، مهذبه او تعليم يافته طبقه زمونږ په دې چاپېرچل کښې يو مقام لري نو نن بيا هم لوېه ښخوي خو د تعليم او د شعور زدکړې سره . بس دومره فرق دے.[8, p12]

عصمت بي بي دا قسم ټولې خبرې په ډېر ښکلي افسانوي انداز ليکلي دي چې عېن زمونږ د چاپېرچل او نفسياتو په زړۀ پورې ترجماني کوي . نو اوس به راشو نېغ په نېغه د عصمت بي بي د افسانو مجموعې ``نيمګړې ښځه" ته د نسواني نفسياتي مسائلو جاج به واخلو .

ددې کتاب وړومبئ افسانه هم په دغه رنګ کښې رنګ ده . چې عنوان ئې ميراث دے . خلاصه ئې داسې ده .

## 1 ميراث

د ميراث افسانې مرکزي کردار ګل تاجه نومې پېغله دے . چې يوه ئې وړه کشره خور زرمينه وي او درې وروڼه درې ورندارې ئې وي . د تېرو شلو کالو راسې ګل تاجه د کور ټول کارونه هم کوي او وهل ټکول هم خوري . څو څو وارې ئې خلق رشتې غوښتلو له راشي خو د کور خلق ئې دغسې رخصت کړي او بيا چې ئې د کشرې خور زرمينې په رشته پسې هم خلق راځي نو د ګل تاجې وروڼه وراندارې ئې بې نوا واپس کوي . ګل تاجې په دې حقله ورندارو ته څو وارې وئيلي وي لکه څنګه چې د يوې پېغلې خپل کور ارمان وي او فطرت ئې غواړي چې وي دې . هم هغسې اونۀ شي نو ګل تاجه اکثر د زړۀ له سوخته په سر توره ښېرې کوي چې :

> يا الله پاکه! يا لويه خدايه! يه زمونږ د بدنصيبو او بې کسو خدايه! څوک چې د چا کور نۀ اٌبادوي ، تۀ ئې خپل کورونه وران کړې.[8, p15]

په دې افسانه کښې چې کومې نفسياتي مسئلې ته اشاره شوې ده ، د دې معاشرې په ښۀ ډول ترجماني کوي .
دا په معاشرتي ژوند اړانه افسانه نۀ ده او دې معاشرې کښې داسې ډېرې ګل تاجې شته دے ځوک چې نۀ صرف ددې افسانې مرکزي کردار بلکې د کردار زمونږ د معاشرې د هرې سيمې او کلي کور کردار دے . چې د ګل تاجې په شانې ډېرې پېغلې خپلې غندلې ځوانۍ د پلار په کور زړوي.
اوس د دې مسئلې نفسياتي پس منظر او نفسيات څۀ دي؟ هغه وجوهات او محرکات څۀ کېدے شي؟ نو که مونږ تنقيدي نظر يا نفسياتي نقطه په دې مسئلو ژور نظر واچوو نو راته به معلومه شي چې په دې افسانه کښې په هغه سړو طنز دے او د هغوي غندنه ده ده ځوک چې سره د تعليم او تهذيب د خوېندو حصې ورکولو ته تيار نۀ وي . خپلې خوېندې په دې وجه نۀ ورکوي چې سبا به رانه د پلار په ميراث کښې حصه غواړي، کوم چې د هغې عېن اسلامي او شرعي حق وي، نو دغه مسئله د وخت سره د نورو لويو نفسياتي مسئلو شکل اختيار کړي چې د لېونتيا او پيريانو او غوټو چبو تر حده اورسي، لکه په دې ټپه کښې ئې څۀ ښکلې منظر کشي شوې ده .

تۀ چې د حال پوښتنه نۀ کړې
زۀ به په ځان پيريان تر کومې راولمه

## 2 د خپل کور لار

ددې افسانې ``د خپل کور لار" مرکزي کردار د شاهد تعليم يافته ښځه شاهنو وي . چې د پوهنتون د ورځو راسې ئې تر مېنځه پېژندګلو شوې وي . شاهنو ډېره باشعوره جينۍ وي . افسانه نګاره وي د شاهنو د افسانو د هيروئين په خلۀ دا خبره بيا بيا وي چې :

> زۀ به هغه کس سره وادۀ کووم چې ورته زما ضرورت وي . د مال دولت نه مې نفرت دے ، پرواه مې نشته که ورکره د يو وخت وي او بل وخت ئې هېڅ درک نۀ لګي. [8, p62]

بيا وروستو د شاهد او شاهنو وادۀ اوشي خو د شاهنو د کورنۍ د دستور مطابق د شاهد او مور ئې دغه ايکې يو لس مرلې کور په شاهنو پسې اوليکي . شاهد يو شکي مزاج زلمے وي چې د شاهنو په حقله هر وخت په دې شک کښې وي چې چرته بل ځوک خو ئې نۀ وو خوښ ؟ چرته دا خو د چا نۀ وه خوښه؟ چرته ما خو پرې زيادتے اونۀ کړو چې په خپلو دعوو کښې مې بنديوانه کړه او شک ئې نور هم سېوا کېږي .

یوه ورځ شاهنو د خپلو ورونړو کره تللې وه چې یو ورور له چرته رشته اوګوري هغه د کور نه درې شپو د پاره تللې وي خو هلته ئې وومه ورځ شي . شاهد وریسې هلته نه راوستلو د پاره روان شي او ځان سره دا هم اووائي چې که نن ماسره رانغلله نو بیا ورپاتې . شاهد چې د هغوي د کور ډیوړۍ ته اورسي نو د شاهنو او د هغې د ورندارو تر مینځه کېدونکې خبرې واوري . ورندار ته په جواب کښې وائي چې زۀ اٌخر ولې بېله شم؟ د دوي د خبرو دا خاکه عصمت بي بي داسې راښکلې ده .

> زۀ خو دا سوچ هم نۀ شم کولے او زۀ په څۀ بېله شم او زۀ په کار نۀ ستړې کېږم نۀ پرې کمېږم . ماته خپل تعلیم د انسان عظمت او د انسانیت سره مینه ښائي، زۀ د هغوي او د خپل ځان مجرمه ووم، د یوې ټوټې د لاسه، او هن ! نن ځان اٌزادوم د هر څۀ هر څۀ نه (دغه وخت شاهد وائي چې) بیا د کاغذ د شلېدو اٌواز مې تر غوږو شو، که خدا ے مۀ کړه شاهد نۀ وي نو زۀ به په تشو دېوالونو او په کوټو څۀ اوکړم، ما ستا د اجازت نه بغېر ستا الماړۍ نه د کور رجسټري راواخسته او هم دا ده ټوټې مې کړه ، هیله چې ټوټې زړۀ مې اوس راجوړ شو . چې لالا مې راشي نو ورته اووایه چې شاهنو خپل کور ته لاړه هغه کورته، چې مخکښې د هغې نۀ ؤ، اوس ئې خپل شولو.[8, p33]

دا ټولې خبرې شاهد په خپلو غوږو واوري او هغوي سره د لیدو کتو نه بغېر کور ته راشي او د هغې ورځې نه پس ورته معلومه شي چې شاهنو یوه ډېره غېرتي ، وفاداره ، باشعوره او د نورو زنانو په نسبت سترګوَره ده .
دې افسانه کښې د نفسیاتو په حقله یو څو خبرې دي . یوه دا چې د شاهنو د کورنۍ د دستور مطابق ئې ورونړه د شاهد نه د وادۀ په وخت شاهنو پسې کور اولیکي دا په ظاهره یو ښۀ عمل نۀ برېښي خو که مونږ د نفسیاتو مېدان ته اوځو نو دې معاشره کښې د حالاتو په وجه د انسان په تحت الشعور او لاشعور کښې دا خبره غلې پرته ده چې که په جینۍ پسې دغه قسمه څۀ څیزونه اونۀ لیکلے شي نو اکثر داسې شوي دي چې د هغې بیا د سخر په کور دومره قدر نۀ وي او څۀ حېثیت ئې نۀ ګڼلے کېږي او که څۀ وریسې په رجسټرۍ اولیکلے شي نو قدر ئې هم وي او په اٌله اٌسانه د طلاقېدو نه هم بچ وي . ځکه چې په دغسې څۀ قدم اخستلو خاوند ته د مالي تاوان رسېدلو ویره وي . خو دې افسانه کښې د ټولو نه غټه او مرکزي خبره د شاهنو د خپل کور سره فطرتي مینه او د خاوند حېثیت پېژندل دي . د کوم برعکس چې هغه د ورونړو ورندارو شېطانۍ ته لته ورکړي او د کور رجسټرۍ کاغذ بسمې بسمې کړي او دغسې شاهنو د خپلو افسانو د کردارونو مطابق برابر اوخېژي او شاهد ته دا واضحه شي چې د شاهنو کردار او ګفتار یو دے لکه هغه رحمان بابا چې وئیلي چې:

د رحمان دا پوچ ګوئي څۀ پکار نۀ ده

عاشقي په ګفتار نهٔ ده په کردار شي [9, p302]

دې افسانه کښې د نفسياتي مطالعې تر مخه يوه بله خبره هم مخې ته راځي هغه دا چې شاهنو د ورور کره د درې په ځائے اووهٔ ورځې ولې تېرې کړې نو ددې د نفسياتي مطالعې نه دا خبره راوځي چې شاهنو ورور کره ددې موقعې په لاس راتلو په کوشش کښې وي چې په څهٔ چل د ورندارې د الماري کنجي تر لاسه کړي او هغه رجسټري سټامپ ترې تر ګوتو کړي چې ئې ورونو ددې د خاوند نه لس مرلې کور ليکلے وي او وې شلوي .
په دې افسانه کښې که يو طرف د سړي ذات د وهم غوندې موذي بيمارۍ ته اشاره شوې نو بل خوا د ښځې ذات وفا، حياء او شرافت څرګندونه ئې هم کړې .
په دې افسانه کښې د وخت ښېر عالم يعني شاهد ته ښهٔ وه د خپل وهم پته په وخت اولګېده ګنې د وخت شيرينۍ شاهنو به ئې هغسې بې وخته د چړې د لاندې راغلې وه .

## 3 لکي سټون (Lucky Stone)

ددې افسانې ``لکي سټون" مرکزي کردار شهلا نومې جينۍ وي چې کمال نومې يو هلک ئې زړهٔ بائيللے وي . شهلا ځان له په ګوتمه کښې يو لکي سټون لګولے وي . دا ګوتمه هغې د چا په مشوره په ګوته کړې وي په دې اميد چې کمال به اوس د هغې شي د ګوتمې په خوشحالۍ کښې پرې خپلو ملګرو يوه پارټي هم کړې وي ،،،، کمال ته هم په دې پارټۍ کښې د شرکت خصوصي دعوت ورکړے شوے وي ،،،، د شهلا هغهٔ ته انتظار وي خو هغه تشريف رانهٔ وړي ،،،، او د پارټۍ خوند ډېر پيکه شي،،،، ددې نه پس هم د کمال د عذر يا بهانې هم څهٔ تلافي اونهٔ شي ،،، خو اخر څو ورځې پس شهلا د کمال د خولې د هغهٔ د کوږدنې کولو يو زړهٔ چاودونکے خبر واوري او خپله د لکي سټون ګوتمه د ګوتې نه لرې ارتاؤ کړي ،،،،،
په دې افسانه کښې دوه لوے نفسياتي مسئلو ته اشاره شوې يو دا چې شهلا د خپل خواهش تر لاسه کولو د پاره لکي سټون په ګوتمه په ګوته کړه چې قسمت مې ملګرتيا اوکړي . لکه څنګه چې عموماً د زنانو نفسيات وي چې د مقصد تر لاسه کولو د پاره د ډېر څهٔ نه مخ نهٔ اړوي په کاڼو ، غمو د قسمت ښهٔ کېدو د پاره يقين کول ښهٔ نهٔ دي تعويذونه او ټوټکې په دې معاملو کښې اکثر ناکامه وي لکه چې وائي:

زما نصيب کښې جانان نشته
که د تعويذ په ځائے مُلا په غاړه کړمه

او بله مسئله دا چې اکثر ددې قسم مسئلې ښکار خلق د نورو مسئلو هم ښکار وي . يعني د نورو خبره بې د څهٔ دليل منطق نهٔ منل او په هغې عمل کول څنګه چې شهلا ته د لکي سټون

د ګوتمې ټوټکه د چا په مشورې په ګوته کړي او دا هغې د خپل خوب واحد تدبیر ګڼلے وي . او د بل چا پوهه ، او هوښیار بنده ضرورت ئې نور نۀ وي محسوس کړے چې د هغې د مسئلې صحیح حل راوځي .

# 4 آئي لَو یُو (I Love You)

سجاد د خپلې ایم فل کلاس فیلو نازو سره د وفا لوظونه کړي وي . څۀ موده پس نازو ته د بهر ملک نه یو خط راولیږي ورته ئې لیکلي وي چې نازو! ماته ټول لوظونه یاد دي خو زما د خپل خاندان دستور نه او د مور پلار نه هم مجبوره ووم نو ما کوېدن خپل خاندان کښې اوکړه (اوږد خط ئې ورته لیکلے وي او وړاندې دا چې) زما تاسره هغسې مینه ده لکه چې وه او نازو د هغۀ په دې اخري خبره متاسفانه حېرانګي اختیار کړي چې "آئي لو یو"

دې افسانه کښې نازو او سجاد چې دواړه اعلیٰ تعلیم یافته دي د نوي دور د نوې مسئلو ښکار دي . سجاد که یو طرف ته مونږ ته داسې کردار کښې مخې ته راځي چې زنانه ذات اکثر نارینه ذات په ټګی کښې راولي او بیا د زنانو، پېغلو تل عمري خفګان روزي وي نو بل خوا پکښې افسانه نګاره دا هم واضحه وي چې د معاشرې ځنې زاړۀ خراب روایتونه دي چې هغه د داسې مسئلو جوړه وي لکه دلته به یو زلمے یا پېغله خامخا د خپل خاندان په خوښه وادۀ کوي . خپل اختیار به نۀ لري او زمونږ پښتنه معاشره کښې د لور زوي رائے معلومول یو لوے عېب دے .
څنګه چې ددې افسانې عنوان نوے دے هم دغسې پکښې مضمون هم نوے دے . یو خوا که دا ټکے I love You د مغرب د تهذیب د اثر څرګندونه کوي او د هغې رد کوي نو بل طرف د پښتنو یو زوړ سخت روایت هم غندي . نو زمونږ سره چې کومه د میانه روی لاره ده هغه د اسلام ده او په اسلام کښې د دواړو خوښه شامل ده .

# 5 نکریزې

ددې افسانې مرکزي کرداره شائسته وي . چې یوه تعلیم یافته جینۍ وي . د دولسم پورې سبق ئې وئیلے وي او نور تعلیم د پلار د حاد ثاتي مرګ په وجه ترې نیمګړے پاتې شي . بیا ئې د زړۀ ور خان سره وادۀ اوشي . خو دوه میاشتې پس ئې سخرګنی د پلار کره راوشړي ځکه چې هغه زړۀور خان ته د بهر ملک لیږلو د پاره شپېتۀ زره روپۍ نۀ لري .
نو بل خوا ورته د مور کور هم اور شي او کله چې د هغې د مشرې خور زرمینې وادۀ جوړ شي او د هلک د کور خلق ورته نکریزه لګوي نو د شائستې هم زړۀ اوشي چې خپلې خور ته نکریزه اولګوي خو مور ئې پرې اواز اوکړي نا شائستې تۀ خور ته نکریزې مۀ لګوه ،،،،،،،

هغې ته خپله ګناه معلومه شي او خپلې کوټې ته منډې کړي او پړمخې پرېوته او ځان ئې د هغه بوډۍ ښځې په دې خبره پوهولو،،،،،،

شائستې دا جامې به دې نۀ اغوستې دا خبره ورته هغې په شروع کښې کړې وه کله چې هغې د خپلې خور وادۀ ته ځان جوړوو .

نسواني نفسياتي مطالعه مونږ ته دا راښائي چې د پېسو د نۀ ورکولو يا نۀ لرلو خو هم يوه ظاهره وجه غربت دے او يا په زنانه څوک دومره غوږ ښکر نۀ خوږوي نۀ د سخر کور او نۀ د پلار نو بل طرف ته مونږ (چې ورله ۶۰ زره روپۍ ورکړې) په ژور نظر که اوکتے شي نو د يوې پېغلې ښځې د وادۀ نه دوه مياشتې پس خاوند مسافر لېږل او د کلونو جدائي قبلول د ژوند په يو نوي ډګر ډېر ګران دي . ددې لا شعور اظهار په دې ټپه کښې څۀ په ښکلي انداز کښې شوے دے :

څوک چې د چا د باغچې ګل شي
مناسب نۀ ده چې سوکړې پرې تېروينه

يا دا چې:

بابو دې بېرته ټکټ واخلي
زۀ خپل جانان د ځان نه نۀ جدا کوومه

## 6 نيمګړې ښځه

دا عنوان ددې کتاب نوم هم دے . ډېره مزېداره او پُر تجسس افسانه ده . او د نسواني نفسياتي مطالعې د پاره ډېره سُودمنه ده . مرکزي کردار پکښې ګل ورينه نومې پېغلې دے . چې د خپل کورني خراب ماحول او د مور او چاچي ګانو تاوېلو ماوېلو نه پوزې له راغلې وي . او قسم ئې کړے وي چې وادۀ به چرې اونۀ کړي او چې لسم جومات پاس کړي نو د ښار جينکو لوے کالج ته به ځي او کلي کښې به يوې لحظې له هم نۀ پاتې کېږي . ګل ورينه يوه ډېره حساسه پېغله وي چې د مور او چاچي ګانو جګړې ، کنځلې ، مړي د قبرونو نه راويستل ، پېغورونه او دغسې نور څۀ اوري نو پخپله ئې د وادۀ نه کرکه پېدا شي او مکمله فېصله کوي چې چرې به هم ودېدو ته غاړه کښېنۀ ږدي . خو چې بيا د خپلې خوږې نا وادۀ ملګرې فرحت په حقله د خلقو بدې خبرې په خپلو غوږو واوري نو حد درجې فکر ئې يوسي ځکه چې ګل ورينې ته د فرحت پاکه لمن په سترګو کښې غړېږي او فرحت په رښتيا پاک لمنه پېغله وي خو وادۀ شوې نۀ وي . نو ځکه ورپسې شونډې بُوسوي . اُخر کښې ئې دا احساس په زوره زوره اوسکونډي

چې د سړي د مرستې او سیوري نه بغېر ښځه نیمګړې وي . دنیا ئې په حیا او عزت کښې نۀ پرېږدي . نو آخر کښې وادۀ ته غاړه کېږدي .

دا افسانه که یو اړخ ته د سسپنس نه ډکه ده نو بل اړخ ته ترې په نسواني نفسیاتي مطالعې سره بلها حقیقتونه راڅرګندېږي . او ورسره بنیادي خبره دا چې ښځه د خاوند نه بغېر نیمګړې وي . او دا خو د قرآن ټکے دے چې ``ښځې ستاسو" (نارینو) جامه (لباس) ده او تاسو (نارینه) د ښځو جامه (لباس) يئ" ځکه انسان په جامه د خپل وجود پرده راوستې وي نو هم دغسې ښځه خاوند د یو بل پرده وي . دې افسانه کښې هغه ښځو د پاره لوے سبق پروت دے . کومې چې د وادۀ کېدو نه انکار کوي . لکه ددې افسانې اُخره کښې دا کرښې .

> او دې سره ورته د خداے بخښلې نیا بي بي دا خبره رایاده شوله ، ګوره لُورې ! ښځه که هر څومره تعلیم اوکړي او هر څومره لویه افسره شي خو بیا هم کمزورے ذات دے ... ډېره کمزورې ده ... د سړي د مرستې او سیورې نه بغېر ئې دا دنیا په حیا او عزت کښې نۀ پرېږدي ... د دنیا دا خلق ئې لکه د لېونو سپو ښنې ښنې کړي او سترګې ئې لکه د غشو د وجود نه پورې راپورې وځي او دا ترې نه ځان په هېڅ صورت نۀ شي ساتلے ... د سړي سیورے ورله هم په داسې حالاتو کښې د قلعې مضبوط او اوچت اوچت دېوالونه شي چې دا پکښې د هر څۀ هر څۀ نه په امان شي او هن لُورې! ... دا خبره مې یادیه ساته ، ښځه که هر څومره په خپل ځان پورې وي خو د سړي د ذات نه بغېر بیا هم نیمګړې وي ، ډېره نیمګړې[8, pp88-98]

د ګل ورینې ژوند د فکرونو ، اندېښنو نه ډک وي . خوراک څښاک ئې بې مزې وي . ژوند ئې د اندېښنو په سبب په اور وي . فرحت ، سره د پاک لمنې په معاشره کښې د حیا ژوند نۀ شي تېرولے . داسې عمل یعني د تکلیف نه ډک ژوند معاشره کښې ولې مخې ته راشي نو که مونږ دې افسانه کښې نفسیاتو ته ځیر شو نو ددې تکلیف محرک د ګل ورینې او فرحت وادۀ نۀ کول وو کوم چې فطري عمل دے . او ښځه د سړي نه بغېر نیمګړې وي .

# 7 جل وهلے

جمیله خفه وي د خفګانه ئې زړۀ چوي چې د ګودر نه خپل کور ته برغ منګي راوړي نو ورېره ورته اووائي چې :

> ببو جي! ستا د وادۀ نېټه د توري کاکا د مشر زوي جمال خان سره کېښودے شوه[8, p94]

لس کاله اُګاهو د جمیلې ورور یو قتل کړے وي ، د توري کاکا کشر زوے ئې وژلے وي . لس کاله پس روغه کولے شي نو جمیله ورته سوره کښې ورکولے شي . افسانه په ډېر ښکلي

انداز لیکلے شوې ده . او د زنانو د ډېرو خفګانونو محرکات زمونږ نا ترسه ترې ښودلے شوي دي . جګړې ، بدمعاشرۍ او قتلونه د سړو د لاسه اوشي او بیا تل عمري سزا پکښې د سورو په شکل کښې ښځې خوري . دا کوم انصاف دے دا کوم دستور دے او دا کوم اور دے چې ښځې پکښې ورتېږي ، اٰخر د خر په ځاے کولاِل ولې داغلے شي،؟ ولې؟

اګر که د هغې د خپل کاکا زوے ادم خان خوښ ؤ خو هغهٔ هم د خاندان د ننګه او د ترهٔ د زوي د تورو تمبو شاته پېغور هغهٔ نهٔ شو برداشت کولے . اګر چې د خون بها د پاره جائیداد هم ورکولے شو خو هغوي د پلار نیکهٔ هډوکي نهٔ خرڅول ،،،، بس دا جمیله وه چې د مور پلار او جېل د تورو تمبو شاته د ورور په خاطر ئې په خپل زړهٔ غټه ګټه کېښوده هغې نه هر څهٔ پاتې شو ، ګودري ، سحرونه ، ،،، مازیګرونه،،،،،،

د هغې په زړهٔ دننه یو تګي جل وهلې چپه تېره تېره شوه ،،،،، او هم ددې تګي اوسوي لوي چپې سره د اوبو ډک ګودر دا محسوس کړه چې زما په فراخه لمن کښې او په زرګونو سېلابې چپو کښې یو هغه ګوټ نهٔ ؤ چې د جمیلې د سوي لوغړن او تزنېدلي جل وهلي تنده پرې ماته شوې وے ،،،،،،

زما د قام دغه دستور ته دنیا ګوته نیسي
د ورور ګناه د خور د ژوند ځانګونه اوسوځول
عبدالرحیم روغانے

## 8 بُلډوزر

ددې افسانې مرکزي کردار لس کلنه کشماله دے . چې د دوي د کور غورځوونکي بلډوزر والا سړي ته منت کوي چې ``زما د ګُوډیانو کور مهٔ ورانوه کاکا" . د کشمالې پلار قبائلي معاشرې والا سړے وي چې د خپلوانو د دشمنۍ په ټس کښې تلے وي . او بیا په دغه ټس کښې ئې قبائلي خلق د خپل دستور مطابق کور وران کړي . بیا کشماله او مور ئې د نورو ماشومانو وروڼو خوېندو سره ماما کره اوسي . او ژوند ئې په مېړتون وي . د ډېرې مجبورۍ عمر تېروي .

په دې افسانه ``بلډوزر" کښې د کشمالې د بې وسه مور او د هغې د وړو بچو د ډېرې سختۍ ژوند تېرولو په شا زمونږ د معاشرې غلط او جاهلانه دستورونه رواجونه دي چې سزا ئې ښځه ذات او د هغې ماشومان خوري . سړے لاړ سر ئې وخوړ او کور په ښځه وران کړے شو .

چونکې افسانه بلډوزر کښې کشمالې په وړه ژبه داسې پوښتنې راځي چې د هغې جواب خپله د هغې مور سره هم نهٔ وي . لکه ``بابا ته دې اووایه چې کراچۍ نه راځي نو چې ماله خبرو کولو والا ګوډۍ راوړي ځکه چې هغه ګوډۍ خاورو کښې ډوبه شوه،،،، ادې دا ملزم څهٔ

ته وائي مونږ خپل کورته ځو ځکه چې بخت مینه ماته کښ کښې لتې راکوي ماشومه کشماله په یوه ساه دومره ډېر سوالونه کوي . مور ئې په زړۀ زړۀ کښې وائي : بچیه تا خو خپل زړۀ سپک کړو ، تۀ څۀ خبر ئې چې زما په زړۀ څۀ تېرېږي . زۀ په سحر سبا د ملک صېب په کور کښې جامې وینځم ، ډوډۍ پخووم ، جارو وهم او لوښي وینځم .

تۀ څۀ خبر ئې کشمالې بچې! چې زما څۀ د ارام او د سکون کچه کور ؤ . څومره خوشحالۍ وې ښۀ اسوده ژوند مو کولو .

"د ماما زامنو دې د لسو زرو روپو په بدل او د رشتې نۀ ورکولو په ټس کښې درې کسان غریبانان قتل کړل اوس د مغرورتیا ژوند تېروي . پلار دې ورته د کور ماته ګوډه وړه راوړه چې مخالیفونو هلته اولیدو نو په لاره کښې ورته کښېناستل او په کلاشنکوف ئې سورے سورے کړو. زما او ستاسو د سر سیورے همېش د پاره فنا شو. اوس مونږ د جابر ورور په کور کښې د ناکامۍ ژوند کوو . زما هم زړۀ غواړي چې ستا د وړې خور ``زربختې" د مِرګو علاج چرته د ښار غټ هسپتال کښې اوکړم . خو تش لاس مې دښمن دے . بس دغه دم درهه باندې ګوزاره کوو. تۀ څۀ خبر ئې چې تۀ او زۀ بخته خور دې د ماما زامنو ته په اونړي کښې په نامه شوي یئ . یعني د قاتلانو په نامه یئ . دې غلطو رسمونو، دودونواو قبائلو جرګو زما د زړۀ ټول خواهشات بلډوزر کړۀ . زما هم تپوس اوکړه چې زما زړۀ څۀ غواړي .

زۀ هم ددې دنیا هغه حاے ته تلل غواړم چرته چې زما زامن د سړیتوب انسانیت او د مینې په قدرونو پوهه شي دوي د درد او خوږو په یو تار اوترلے شي او چرته چې د دوي نه د قام ښکلي ښائسته نران ، باتوران او تعلیم یافته زلمي جوړ شي ،،،، اوهو،،،، زۀ هم ددې دنیا هغه حاے ته تلل غواړم چرته چې د ټول انسانیت د پاره درد وي ، خوږ وي ، مینه وي ، احساس وي ، احساس وي ، د بارودو اورونه او لوګي نۀ وي . په قدم قدم دښمنۍ او ویره نۀ وي ،،،،، لُورې! زما دا ارمان دے او زۀ خپل ټول بچي د دښمنۍ او تربګنۍ د چاڵ نه لرې لرې بوتلل غواړم ،،، خو زما د زړګي سره زما نوپوهه ناچاپې لُورې زۀ هېڅ نۀ شم کولے . زۀ یواځې ښځه ذات په کمزوري وجود او په کمزورو لاسونو د دښمنۍ او بې وسۍ بلډوزرې ، د رسمونو رواجونو بلډوزرې ،،،، او د جهالت بلډوزرې نۀ شم ورانولے او نۀ ورله مخې له راتلے شم ،،،، چرې هم نۀ چرې هم نه ،،،! [8, p128]

دا افسانه په مجموعي توګه د پښتنې معاشرې عکاسي او د قبائیلي ژوند ژواک نه علاوه د پښتنو جهالت سره سره د یوې کونډې مجبورۍ په ګوته کوي نو بل خوا د یوې ماشومې معصومیت، د یوې ښځې مشریقیت په ډېر ښکلي انداز کښې قلم بند کړے دے . پلاټ ئې که هر څو زوړ دے خو د نوي رنګ روغن سره لوستونکو ته نوې او زړۀ راښکونکي ښکاري .

## 9 نیم کښنو وَر

په دې افسانه کښې افسانه نګار یو داسې نفسیاتي مسئلې ته اشاره کړې ده . او داسې حقیقت ئې بربنډ کړے دے چې په دغه موضوع د قلم اوچتولو جرأت د یو حقیقت پسند افسانه نګار یا افسانه نګارۍ کار دے .

په پښتنه معاشره کښې که یو سړے داسې بغاوت اوکړي نو هم زور ئې پښتنې تور سرې له ځي چې په اصطلاح کښې ورته سوَره وائي . خوا که یوه پښتنه داسې بغاوت اوکړي نو بیا ئې د ژوند او بۀ دانه ختم وي ولې چې د پښتو متل دے د ښځې د پاره یا کور دے او یا ``ګور دے"

په دې افسانه کښې مرکزي کردار د ګل ځانګې دے ځوک چې په وړوکوالي کښې یتیمه یسیره شي . او د پرور ش بوج ئې د نیکۀ په اوږو پرېوځي . ځوک چې ډېر لوے خان او رېټائرډ کرنل وي (سربلند خان)

هغه هر وخت د خپلې نمسۍ غوږ سارنه کوي ولې چې په خپلو کښې د هغو د سیالۍ ځوک دي نه چې د ګل ځانګې رشته ورله ورکړي او په پردو کښې ورته د خپل خاندان د روایت خلاف ښکاري . دغسې ګل ځانګې ایم اے انګلش هم کړے وي او استاذې طرف په دې وجه نۀ شي کولے چې بیا به خلق وائي چې فلانکي خو په نمسۍ تعلیم د نوکرۍ د پاره کوو نۀ ئې شوه ساتلے .

اخر دغه بندېزونه او پابندۍ د حد نه واوړي او ګل ځانګه د نفسیاتي مسئلو سره مخ شي . اخر کار هغه د خپل ژوند یو داسې فېصله اوکړي چې د سر بلند خان د پښتو او غېرت په مخ د احساس یوه درنه سپېړه ثابت شي .

او د هاله کله چې هغه د خپلې بنګلې د باورچي سره اوتښتي . ځوک چې ګل شېر نومېږي .

ددې افسانې End ډېر مزېدار دے .

> او موټر چې نیمې ګېنټې د مزل نه پس په جي ټي روډ راغے نو ګل شېر موټر لږ رو کړو او په داسې انداز ئې ګل ځانګې نه اوکتل لکه چې وائي ،،،،، اوس چرته ؟ ګل ځانګې د ګل شېر سترګو ته اوکتل نو بې درېغه ئې خپل لاس د ګل شېر په سټېرنګ ایښے شوي لاس باندې کېښودو او ورته ئې اووئیل ،،،، ستاسو کلي ته ، او ستاسو کور ته.[8, p138]

## 10 د غاړې زنځیر

> "نازنینې مینه کړې وه ،،،،،، سوداګري ئې نۀ کوله او سلمان ، سوداګر ؤ. د ژوند فېصله کښې ئې هم سوداګري کوله.[8, p170]

په دې افسانه کښې مرکزي کردار د ``نازنینې" دے ځوک چې د سلېمان سره د زړۀ نه مینه لري . سلېمان لباسي مینه کوي او د هغۀ د علاج د پاره نازنینه خپل یو د غاړې زنځیر هم خرڅ

کړي او د هغهٔ علاج اوکړي . خو کله چې سلېمان روغ شي او امتحان ورکړي نو بيا ئې نازنينه په تورو سترګو هم نهٔ ويني . سلېمان خو دا هر څهٔ هېر کړي خو د نازنينې نه دا هېرېدل ډېره ګرانه شي . او په خپله په لاعلاجه مرض پرېوځي چې نهٔ دارو لري او نهٔ دم . په دې افسانه کښې هم لکه د عصمت بي بي د نورو افسانو د سړي ذات د زنانه ذات سره اکثر د چلبازۍ او چالاکۍ د وعدو او لوظونو د دروغو او خود غرضۍ او د کلي کور د ساده پېغلو د زر اعتبار کولو عکاسي او ترجماني شوې .

ددې افسانې پلاټ هم لږ لوے دے د فکر په لحاظ ډېره ښهٔ ده خو د فن په لحاظ وحدت تأثر نه لږ زيان رسېدلے دے .

ما وې يواځې زما يار ئې
ستا لباسي خندا د هر چا سره وينه

# 11 لوے افسر

دې افسانه کښې مرکزي کردار اسفنديار دے . دا زلمے د خلقو د شکونو او الزامونو باوجود د رضيې سره وادهٔ کوي .

دې افسانه کښې هم په ماحولياتي نفسياتو خبره شوې ده . زمونږ د معاشرې زيات خلق ټُوک ويني او تېپر پرې نهٔ ويني . ظاهري حالت ته ګوري خو حقيقيت نهٔ لټوي . دا نهٔ ګوري چې رضيه د اسفنديار د خور ذکيې په ټس کښې تربوزک وهونکو موټر کښې بوتلې برمته کړې وه او هملته په کمره کښې ئې ايکې يواځې بنده کړې وه . د هغوي غرض پېسه وه خو چې پينځهٔ ورځې پس اے ايس آئي والا اسفنديار چې د رضيې د ترهٔ زوے هم وهٔ سره د نورو پوليس والو د هغوي د هغوي له بنده ازاده کړه او ورسره ئې وادهٔ اوکړو . د خلقو پرې دا ګمان وهٔ چې رضيه پنځهٔ ورځې د بدمتې په موده کښې د پردو سره بندي وه نو ،،،،

عصمت خور دې خبرې ته اشاره کوي چې زمونږ معاشره شکونو وهمونو برباده کړه . کار ئې الزامونه لګول دي . کار ئې الزامونو لګول دي ، خو اسفنديار ددې معاشرې داسې تن وي چې ددغو شکونو الزامونو پرواه نهٔ ساتي او رضيې سره وادهٔ اوکړي او هغه ډېره خوشحاله ژوند تېروي او دا ځکه چې ددې سړي په زړهٔ د اسلام جذبه وي او شايد د حضور؀ د حقيقي تعليماتو نه خبر وي . په دې افسانه کښې د مثبت روېې څرګندونه او ډاډ ګيرنه شوې ،،،،

او اسفنديار ته مور وائي ``زويه تهٔ خو افسر ئې کنه،،،،، ؟" خوېندې ئې په شريکه وائي ،،،،، نه نه مور جانې تش افسر نه لوے افسر،،،،،،"

## 12 پښو ته زنځير

په دې افسانه کښې افسانه نګاره د خپل کتاب په دې اخره افسانه کښې هم د زنانو د مسئلو او نفسياتي ستونزو سلسله برقراره ساتلې ده .

چې د نوي دور مسئله ده . په دې افسانه کښې يو مشر استاد خپلې پېغلې شاګردې ته سترګې خړې کړي . خو چې کله پښې د څادره اوباسي چې تنګ شي نو په جنګ شي . خبره هغې مرحلې ته اورسي . ددې افسانې د خاتمې څو کرښې دا دي چې :

> زۀ به اوس غلې نه پاتې کېږم ، غلې پاتې کېدو زما نه بلکې د دې نړۍ د ټولو ښځو او تور سرو له نقصان دے . زۀ به اوس داسې اواز پورته کړم چې طوفانونه او اٰوازونه به اولګوي . په کمزورو خلقو نا ،،،، په هغه خلقو چې د انسان په جامه کښې شېطان وي ،،،، او د انسانيت او خپل سړيتوب نه بهر شي ،،،، د هغې دننه يو طوفان ؤ چې ټول بندونه ئې مات کړي وو . چې ناڅاپه د کمرې ور لرې شو مخامخ ورته د هغه (استاد) څلوارلس کلن زوے ولاړ ؤ ،،،،، ددې خپل زړۀ ډېر مضبوط شوے ؤ او نور ئې هم مضبوط کړو او ښۀ په تېز د قهر نه ډک اوز کښې ئې ورته وئيل هلکه! مور ته دې وايه چې د پلار پښو ته دې زنځير واچوي ګنې دے درنه تښتي . او دې سره ئې ورنه کړس اوويستو او چې د ور نه بهر راغله نو د ځان سره ئې اووئيل د سره هم داسې سلوک پکار ؤ ځکه چې کوم خلق انسانيت او د سړيتوب د جامې (څادر) نه پښې اوباسي نو بيا هغوي د ځناورو په نامه بللے شي او داسې خطرناکو ځناورو زنځير اچول ډېر ضروري شي.[8, p202-203]

د عصمت بي بي دا افسانه ددې حقيقت غمازي کوي چې د وادۀ د ارادې په وخت خپل عمر ته کتل پکار دي .

په دې افسانه کښې عصمت بي بي د حقيقت پسندۍ ډېر په نره جرأت کړے اګر چې د هغې دغه يو موضوع ډېره چېړلې ده خو په نوي نوي انداز کښې ددې نه علاوه د يوې پښتنې پېغلې د بهادرۍ او جرأت ډېره ښۀ عکاسي کړې ده . دغه د پوخ عمر سفېد پوش د معززې پېشې د يوې ناوړې اړخ نه ئې هم پرده پورته کړې او دغه هم يوه نفسياتي او ډېره خرابه بيماري ده . چې د عمر رسيده خلقو ته کېږي . د يوې ښې افسانې ټول لوازمات پکښې شته دے .

## 13 نتيجه

په دې مجموعه کښې ټولې نولس افسانې دي ،،،، د کومو تعلق چې زمونږ د موضوع سره ؤ . مونږ د هغې نفسياتي او نسواني جائزه واخسته .

د کومو تعلق چې زموږ د موضوع سره نهٔ دے په نورو بېلابېلو موضوع ګانو ليکلے شوي دي په هغې کښې ``رانګ نمبر" ، ``درېمه سترګه" ، ``بُوتلي" ، ``د زړګو لارې" ، "ګلے ټېکس" ، ``د ببعې خندا" شامل دي .

په مجموعي توګه موږ دې نتيجې ته رسو چې عصمت بي بي په دې خپل کتاب کښې د يوې سترې او حقيقت پسندې افسانه نګارې په حېث د خپل قلم حق ښهٔ ادا کړے دے او د يوې ماهره نفسيات په شکل کښې ئې د زنانو د ژوند د لوړې ژورې او سړې تودې د قلم څوکې ته سپارلي دي .

د هغې دغه افسانې د کورني او کليوال ماحول عکاسي کوي خو د کار خبره پکښې دا ده چې په نوي دور کښې د لوئېدلي طبقې او درميانه طبقې سره سره د لوے طبقې د نسواني ژوند د نفسياتي ستونزو تصوير کشي هم کوي .

چې د ساده او شډلو پښتنو په ځاے کردارو نه اکثر سوشل هم دي .

ددې اصلاحي افسانو مطلب هم دا دے چې موږ پښتانهٔ ، هم يو مسلمانان، هم يو او دې هر څهٔ نه علاوه انسانان هم يُو . پکار ده چې موږ د هغوي د حقوقو په هره حواله خيال اوساتو .

په دې حواله ددې افسانو په رڼا کښې باوجود د سړي ذات په حېث ددې خبرې تائيد کووم چې د زنانه ذات سره چې په دې معاشره کښې د سړي ذات کومه رويه ده يا د زنانه ذات په دې معاشره کښې کوم مقام دے هغه قابل رحم دے . او د عصمت بي بي افسانې به يو ځل بيا وواي چې ددغې هنداره ننداره دي . او د هغې کتاب ``نيمګړې ښځه" ددغې زنځير د سلسلې يوه مظبوطه کړې ده .

يعني موږ هغه مقام لا ښځو ته نهٔ دے ورکړے کوم چې موږ ته اسلام ښودلے او خداے او رسول په ګوته کړے دے .

## Bibliography


[1] Hanif Khalil, Naway Nasar ao Afsaanvi Adab, University Publishers, Afghan Market, 2016

[2] Yousafzay Sahar, Adab Sa Day? Alketab Printers, Peshawar, 1998

[3] Shaiq Muhammad Sajid, Sarganda Khazana, 2nd edition, Frontier Graphics, Sadaf Plaza, Muhallah Jangi, Peshawar, 2015

[4] Wazir Yasmin, Da Tyari Pa Ranra Ki, Asad Danish Matboowa Kabul, 2015

[5] Mukamal Urdu Dictionary International, 2001

[6] Feruz ul Lughaat, Urdu Jaami, Matbooa Feroze Sons Limited, Lahore, 2005

[7] Taaleemi Nafsyaat Our Nissab, Early Childhood Education and Elementary Teachers Education, Allama Iqbal Open University, Islamabad

[8] Asmat Bibi, Nemgari Khaza, Millat Printer Lahore, 2000

[9] Abdur Rahman Baba, Dewaan-e-Abdur Rahman, old Edition